مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني ۲۰۲۰/۰۹/۰۳

شاه شجاع، امير دوست محمد خان او برتانيه

درې ديرشمه برخه

دريم فصل

پاخون:

انګرېزانو په افغانستان کې، په تيرو څه باندي دوو کالو کې، ټول هغه کارونه وکړل چې د نه کولو وه او د افغانستان خلک يې، په لوی لاس، پاخون ته تحريکول. خو په داسي حال کې چې د افغانستان هر قوم او هره سيمه د انګرېزانو پر ضد له خروښه ډکه وه دوی هم د غلجيو مشرانو مواجب، چې هغوی له مودو راهيسي، د لارو د ساتلو په بدل کې ترلاسه کول، بند کړل او هم يې لا باقيات وربادني حواله کړل او د درانيو خانانوته يې له کابله د وتلو امر وکړ، ګويا خپل قبر يې پخپله وکيندی.

د کابل پاخون، لکه د نړی د بل هر پاخون په څېر، يو ناڅاپه پيل سو او په لږ وخت کي يې داسي زور واخيست چې په څه کم دريو مياشتو کې يې د انګرېزانو پوځ داسي تباه کړ چې په خپل ټول تاريخ کي يې داسي تباهي نه وه ليدلې. پخپله مکناټن هم ليکلي دي چې ما افغانستان ته د راتللو له لومړيو ورځو داسي فکر کړی وو چې په دې هيواد کي به يو وخت يو ښورښ منځته راځي او په پوځ کي ډېر زيات نارضايت موجود وو؛ مګر دا فکر مي نه کاوه چې په دغه ټاکلي وخت کي دي پيل سي. (کې دوهم جلد ص ۵)

اليګزانډر برنس د کابل له وروستيو پېښو او د حکومت له اجرآتو سره څکه چنداني غرض نه کاوه چې ټاکل سوي وه مکناټن، د نومبر په لومړی هفته کي، د افغانستان د سياسي چارو مشرتوب هغه ته وسپاري او پخپله د هند پر لور حرکت وکړي او هلته د بمبيي ګورنر سي. خو قسمت بل پلان درلود.

د نومبر پر لومړی نېټه ماښام، چې برنس خپل نوي ماموريت او ترقی ته خوشاله وو، د غازي عبدالله خان اڅکزي په کور کي، د راتلونکي پاخون، مشران سره غونډ سوي ول. څرنګه چې اليګزانډر برنس، يا د کابل د خلکو په اصطلاح سکندر، قومي مشرانو ته تر ټولو زياته بي احترامي کړې وه نو د هغه د کور د سوځولو او له منځه وړلو په باره کي فيصله صادره سوه. د جرګي قزلباش برخه وال نايب محمدشريف او تاج محمدخان په هغه شپه برنس ته، د جرګي له فيصلي څخه، اطلاع ورکړه. ميرزا محمدخان جوانشېر، چې هغه هم په جرګه کي برخه درلوده، موهن لال ته خبر ورکړ خوبرنس د چا خبره ونه منله او په خپل کور کي آرام ويده سو. (موهن لال دوهم جلد ص ۳۹۹)

د برنس کور ښايي څکه په نښه سوی وي چې يو خو يې د کابل د ښځو او بي شرميو په قضيو کي تر ټولو انګرېزي صاحب منصبانو خراب رول لوبولی او په دغو قضيو کي يې په لوی لاس د قضاوت او عدالت د کېدلو مخه نيولې وه. قومي خانانو، په تېره بيا عبدالله خان اڅکزي ته يې، ډېر زيات سپکاوی کړی وو او پر کور باندي يې حمله کول څکه يو څه آسانه کار وو چې مکناټن په عسکري قشله کي دننه اوسېدی او پر هغه باندي حمله غيرممکن کار وو او د برنس پر کور باندي يرغل نسبتاً اسانه وو. بله مهمه خبره دا وه چې د ده د کور څنګ ته د کپتان جانسن کور وو چې د قشلې ټوله خزانه پکښې ساتل کېدله.

موهن لال وايي د نومبر پر دوهمه سهار پر اووه بجي د کورمزدوري دروازه په دربي ټکوله او ناري يې وهلي چې آقا ته ويده يې ښار پر بل مخ چپه سو. زه باغ ته را ووتلم او ليدل چې زما په ګاونډ کي خلک د خپلوکورو سامانونه خوندي ځايونو ته وړي. (هغه کتاب ص ۴۰۱)

مکناټن ته سهار وختي د برنس ياداشت ورسېدی او پکښي ليکلي يې وه چې د ده د کور په شاوخوا کي يو څه ناکراري روانه ده او د پوځي مرستي غوښتنه يې کړې وه. مکناټن هم د ياداشت له کلماتو څخه داسي اټکل کړی وو چې چنداني لويه خبره به نه وي. ګړی وروسته د جنرال دفتر ته ورغی او د برنس د ياداشت په باره کي يې خبري کولې. دوی به لا د هغه مرستي ته د پوځيانو د لېږلو فيصله کوله چې برنس ټوټي ټوټي سوی وو. (کې دوهم جلد ص ص ۶-۷)

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

له برنس سره د هغه ورور چارلس برنس او ضابط براډ فوټ، چې ورور يې، يو کال مخکې په همدغه ورځ، په پروان دره کې، د دوست محمدخان سره په جنګ وژل سوی وو، ژوندکاوه. سهار وختي يوه افغان برنس ته رپوټ راوړ چې د ده د وژلو پلان جوړ سوی او نن عملي کيږي. برنس باور ونه کړ او هغه سړی يې جواب کړ. يو ګړی وروسته نظام الدوله محمدعثمان خان راغی او برنس ته يې وويل چې ژر تر ژره ځان بالاحصار او يا قشلې ته ورسوي. برنس هغه ته وويل چې زه يې مخه نيولای سم. دا ګړی خلک د هغه د کور مخې ته را رسېدلي ول. برنس فکر نه کاوه چې د ده له کوره څخه په دوه ميله فاصله کې دي په قشله کې شپږ زره عسکر وي او مکناټن او يا جنرال الفينسټون دي د ده د ژغورني کوښښ ونه کړي. (هغه کتاب ص ۷)
د ښورښ مشران عبدالله خان اڅکزی، امين الله خان لوګری، سکندرخان او عبدالسلام خان د برنس د کورسره نيژدې باغ ته ورسېدل. برنس خپل يو سيد مامور او د حميد په نوم يو بل سپور عبدالله خان ته واستول څو د ښورښ د علت پوښتنه وکړي او ورته ووايي چې د دوی امتيازات به ډېر ژر بيرته پيل سي. مخکې له هغه چې څوک جواب ورکړي، سکندرخان هغه سيد په توره وواهه او سر يې ورڅخه پرې کړ او هغه بل سپور وتښتېدی.
برنس د خپل کور له برنډې څخه د ښورښيانو سره خبري پيل کړې او هغوی، چې مخکې لا بامونو ته ختلي وه، د برنس پر لور ډزي وکړې او براډ فوټ يې، چې د برنس څنګ ته ولاړ وو، په سينه کې وويشتی. د برنس له خوا هم ډزي پيل سوې. هزارخان کوټوال، حاجي علي، هاشم خان کاه فروش، کاکاحسين، عبدالرحيم، محمدحسين خان عرض بيګي د برنس کورته اور واچاوه. ضابط چارلس برنس انګړ ته راووت او له خلکو سره يې جګړه پيل کړه او خلکو ټوټې ټوټې کړ. د شاه شجاع خپل کنډک مرستي ته را ورسېدی مګر ښورښيان ورباندي غالب سول او ټول يې ووژل او توپکونه يې ورڅخه واخيستل. کور اور واخيست او برنس مجبور سو چې دباندي راووزي. ښورښيانو ته يې زاری وکړې چې که دی ونه وژني له دوی سره به هر څه چې غواړي هغه وکړي. ناظر علی محمد، هزارخان کوټوال او د عبدالله خان اڅکزي وراره او ډېر نور چې برنس ظلم او بې عدالتي ورسره کړې وه حاضر ول او ټولو په يوه سلا په ښکنځلو جواب ورکړ او ځای پر ځای يې وواژه. کپټان جانسن، چې تېره شپه يې په قشله کې تېره کړې وه، له دغه ښورښ څخه ژوندی پاته سو او کور يې، چې د برنس د کور څنګ ته وو او خزانه پکښې خوندي وه، لوټ او وسوځول سو. (موهن لال ص ص ۴۰۷-۴۰۹)
کپټان جانسن وايي ښورښيانو زما د کور دروازې ته اور واچاوه او کورته ننوتل. دوی زما ټول محافظين، چې يو صوبه دار او اته ويشت تنه سپاهيان ول او څو تنه خوردضابطان ورسره ول ټول ووژل. دوی زما ټول نوکران، ښځې، نارينه او ماشومان قتل کړل او زما خزانه يې چې يو لک اووه ويشت زره روپۍ کېدلې لوټ کړه. زما د دريو کالو د حسابونو کاغذونه يې، چې د تقريباً يوميليون سټرلينګ پونډو حسابونه وه، وسوځول او زما شته مني يې چې څه باندي لس زره روپۍ يې ارزښت درلود چور کړه. (کې ص دوهم جلد ص ۱۳)
شاه شجاع، د اليکزانډر برنس د ساتلو او د نظم د ټينګولو لپاره، خپل کنډک ور واستاوه او له ښورښيانو سره په جګړه لګيا سول؛ مګر ډېر ژر يې ماته وکړه او اکثر يې قتل سول او توپکونه يې ښورښيانو ته په لاس ورغلل.
شاه شجاع خپل زوی شهزاده فتح جنګ ور واستاوه مګر هغه د دې پرځای چې د ښورښ په کرارولو کې مرسته وکړي پر خلکو باندي ږغ وکړ چې پر خپل عزم ټينګ ودريږی، خپل ايمان ثابت کړی او کافران تباه کړی. دا معلومه نه سوه چې فتح جنګ د خپل پلار په اجازه ښورښيان تحريکول او که يې پر خپل سر کار کاوه. خو کله چې نواب زمان خان، چې موهن لال يې په خپل کورکې ساتلی وو، له ښورښ سره د شاه شجاع نوم واورېدی نو وې ويل چې که په دې ښورښ کې د شاه شجاع لاس وي نو بيا يې کرارول ډېر ګران دي. ده مکناټن ته وليکل چې که ستا خوښه وي زه پخپله قشلې ته درځم او ستا له لار ښووني سره سم به د نظم په ټينګولو کې کوښښ وکړم. که په ښورښ کې پخپله د شاه شجاع لاس نه وي نو ښورښيان ښايي زما خبره ومني. مکناټن جواب ورنه کړ. (هغه کتاب ص ص ۴۰۷-۴۰۸)
ميرزا عطامحمد هم د موهن لال دا خبره تاييدوي چې شهزاده فتح جنګ په ظاهره د ښورښ د کرارولو لپاره روان سو مګر په زړه کې د غازيانو سره ملګری وو. له هغه سره څلور سوه سپاره عسکر او څلور توپونه ورسره وه او له غازي عبدالله خان اڅکزي او امين الله خان لوګري سره يې خبري پيل کړې. خبرو نتيجه ورنه کړه او غازيانو پر فتح جنګ باندي حمله وکړه او په دې جنګ کې نايب محمدشريف خان ووژل سو. فتح جنګ ايله ځان په تاخته خلاص کړ او بالاحصار ته ننووت. (عطامحمد ص ص ۱۵۲-۱۵۳)
تاريخ سلطاني ص ۲۶۶ د شاه شجاع له خوا د فتح جنګ د لېږلو خبره تاييدوي مګر له غازيانو سره، په پټه يا ښکاره، د فتح جنګ يا شاه شجاع د ملګرتوب خبره نه کوي. تاريخ سلطاني د فتح جنګ سره د ورسره د عسکرو شمېر په برخه کې يو څه مبالغه کوي او يوازې د هغه د مات سوي پوځ مړي او زخميان اووه سوه تنه ښيي. او وايي چې غازيانو په همدغه ورځ نواب محمدزمان خان د خپل پاچا په حيث ومانه. په دې توګه، د کابل د ښار په منځ کې، ناکراري، په يوه ورځ، داسي سرحد ته ورسېده چې د کرارولو امکان يې نه ليده کېدی. خو که د جنرال شيلټن، چې په قشله کې يې له جنرال الفينسټون څخه وروسته دوهم مقام درلود، ياداشت ته وګورو نو ښکاري چې انګرېزان او شاه شجاع دونه وارخطا وه چې د هيڅ ډول وړې او لويې پيښې د مخنيوي صلاحيت، زړه او توان يې نه درلود. شيلټن ليکي:

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«د نومبر پر دوهمه سهار پر اووه بجې د ښار تر دېوال لاندې تېرېدلم چې زموږ واښه رېبونکي له دراوزې سره ولاړ ول. ويل يې دراوزه تړلې ده او موږ نه سو وتلای. په ښار کې مطلقه کراري وه نو زه د کور خواته ولاړم او ما فکر وکړ چې په ښار کې به غلا سوې وي او دوی به د غله د تښتېدلو د مخنيوي لپاره دروازه تړلې وي. پر اتو يا نهو بجو راز راز رپوټونه خپاره سول. د نهو او لسو بجو ترمنځ د جنرال الفينستون ياداشت را ورسېدی او ويل يې چې په ښار کې ناکراري ده او زه بايد درې ټولۍ عسکر او څلور توپونه راسره واخلم او د بالاحصار خواته حرکت وکړم. سمدستي يو بل هدايت راغی او ويل يې مه ځه چې شاه شجاع نه غواړي. ما ورته وليکل چې که په ښار کې ناکراري وي نو ژر فيصله وکړی. په دغه وخت کې دوه زړه توب لازم نه دی. په جواب کې يې راته وويل چې سمدستي بالاحصار ته حرکت وکړه او هلته به د مکناټن پوځي سکرتر، چې په بالاحصار کې دی، نور هدايت راکړي. ما حرکت کړی وو چې د سکرتر له خوا بل هدايت راغی چې نورو اوامرو ته منتظر سم. ما انجنير ته وظيفه ورکړه چې ته ورسه وګوره چې زما د ځنډولو علت څه دی. خو انجنير چې په بالاحصار کې له آسه ښکته کېدی يوه افغان حمله ورباندې وکړه او مړ يې کړ. له دې پېښې څخه وروسته ډېر ژر د مکناټن سکرتر پخپله راغی ويل يې حرکت کوه. کله چې زه بالاحصار ته ورغلم نو شاه پوښتنه راڅخه وکړه چې زه چا را لېږلی يم او څه کوم؟ شاه پخپله په ښار کې دننه د عملياتو او ناکرارۍ د ختمولو اجازه نه درلوده او يوازې يې د خپلو هندوستاني عسکرو ساتنه کولای سوای. په دې توګه نو شيلټن نه سو ملامتولای. مګر نه مکناټن او نه جنرال الفينستون په دې پوهېدی چې ډېر عاجل اقدام بايد وکړي. څه چې پاچا غوښتل هغه پله درنه وه او هغسي وسوه» (ايکسپېډيشن ص ص ۳۴۵-۳۴۶)

هينري ډيورنډ ليکي چې انجنير سټرټ وژل سوی نه دی بلکه ډېر سخت ټپي سو او کله چې يو لړ په حال کې راغی او د خبرو او ليکلو توان يې پيدا کړ نو سمدستي يې وويل چې د انګرېزانو عسکر بايد له قشلې څخه بالاحصار ته انتقال سي. مګر څرنګه چې کوچينو مغزونو ته کوچنۍ ستونزې ډېرې لويې او بَبو ښکاري او له بده مرغه چې د کمزوري جنرال پر شاخوا باندې ډېر کمزوري سلاکاران را ګرځېدلي ول نو هيڅا سمه او پر وخت فيصله ونه کړه. (ډيورنډ ص ۳۵۶)

د ځينو انګرېزي ليکوالانو له ليکنو څخه خو ښکاري چې شاه شجاع، د ښورښ په ځپلو کې، تر انګرېزانو فعاله ونډه واخيستله او وايي چې که چيرې، د کيمپبل په مشرۍ، د هغه لېږل سويو قواوو له ډېر بې زړه توب څخه کار نه وای اخستی او ژر پر شا سوي نه وای او يا ژر تقويه سوي وای ښايي د برنس ژوند يې ژغورلی وای. په هغه ورځ جنرال شيلټن او جنرال الفينستون تر ټولو زيات واک او صلاحيت درلود. خو شيلټن هيڅ ونه کړل او الفينسټون دونه ناروغ وو چې څه يې کولای نه سوای. (هغه کتاب ص ۳۵۳)

ليفټينيټ ايري په دې عقيده دی چې دا ښورښ له لويه سره د شاه شجاع په تحريک پيل سو. دی د کپټان جان کانلي په حواله وايي چې له هغه سره په دې برخه کې قانع کوونکي دلايل او ثبوتونه موجود وه. کانلي وايي شاه شجاع له برنس څخه نفرت درلودی؛ په دې برخه کې شاه شجاع يوازې نه وو بلکه ډېرو نورو مشرانو هم له هغه څخه ځکه نفرت درلود چې هغه ډېر مغرور وو او له چا سره يې نه ليدل. کانلي وايي شاه شجاع په دې خبر وو چې که مکناټن هندوستان ته حرکت وکړ نو د هغه پر ځای باندې برنس ټاکل کيږي او له هغه سره د ده ګوزاره نه کيږي. ځکه يې د هغه د له منځه وړلو لپاره اوربل کړ. دی وايي بېچاره شاه شجاع په دې نه پوهېدی چې دا اور به يو وخت دونه زور واخلي چې وژل به يې د هيچا په وس پوره نه وي او دی به پخپله پکښې وسوځي. (ايري ص ۳۲۸)

داچې د برنس د وژلو په مسله کې به شاه شجاع برخه درلودلې وي کنه يو څه مشکوکه ښکاري خو کله چې، له دې پيښې، او د پاځون له پيل کېدلو څخه، څه باندې يوه مياشت وروسته مکناټن له اکبرخان سره موافقه وکړه چې يا به شاه شجاع ته، په کابل کې د پاته کېدلو په صورت کې، له کاله يو لک روپۍ تنخوا ورکوي او يا به اجازه ورکوي چې هندوستان ته سفروکړي او له دې فيصلې څخه يې شاه شجاع خبر سو نو هغه مکناټن ته ګيله وکړه او له دې مکتوب څخه يې ښکاري چې شاه شجاع، له افغانستان څخه، د انګرېزانو د پوځونو وتل نه غوښتل. شاه شجاع مکناټن ته وليکل چې «زه تاسي، دې ملک ته، د دغه لپاره راوستلم چې د دښمنانو په لاس مي ورکړی؟ تاسي لا د بارکزيانو او د دې ملک د اوسېدونکو له بد قولی څخه خبر نه ياست. ولې خپل ځانونه او ما دواړه مرګ ته ورکوی. تاسي دې خلکو ته بېځايه پيسي ورکوی او هغوی، په لوی لاس، د خپلو ځانونو د قتلولو لپاره، تقويه کوی. تاسي چې کومه لاره اخيستې ده هغه د عقل لاره نه ده. » خو کله چې مکناټن ته دا ليک ورسېدی هغه په جواب کې ورته وليکل چې اوس موږ موافقه کړې ده او په دې برخه کې نور څه نه سي کېدلای. شاه شجاع د افسوس لاسونه موښل او ويل به يې چې مکناټن صاحب ته له دونه عقل او پوهې سره څه پيښه سوه چې دونه غلطه لاره يې واخيستله. (هراتي ص ۱۳۸)

د دې پاځون د لومړۍ ورځې په باب چې وروسته هر څه څېړني سوي دي نو د ټولو عيني شاهدانو، او هغو کسانو چې په دغو پېښو کې يې لږ او ډېر لاس درلودلی دی، له خبرو څخه ښکاري چې د انګرېزيانو مشران هم بې ارادې، هم په خپل کار ناپوه او هم ډارن کسان ول. ټول څېړونکي او عيني شاهدان په دې عقيده دي چې د برنس د کور مخې ته، په لومړي سر کې، له دېرشو څخه نيولې تر سلو تنو پورې راغونډ سوي وه. ټول دا وايي چې د دې پاځون د ځپلو لپاره يوه وړه عسکري قوه او يا د انګرېزانو د ګارنيزون له لوري يو عکس العمل کافي وو. خو څرنګه چې هيچا ښور ونه خوړ نو د غازيانو شمېر په لږوخت کې څو سوو تنو ته ورسېدی. کپټن ميکنزي وايی له جنرال مک

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کیسکل سره پر کوهستان باندي د حملي په عملیاتو کي د کابل د شیعه ګانو مشر خان شیرین خان راسره ملګری وو او کله چي مي د هغي ورځي د پاڅون په باب پوښتنه ورڅخه وکړه نو همدغه خبره یي کوله او ویل یي چي که د ګارنیزون له خوا یو لږ شاني حرکت سوی وای نو زه د انګریزي قواوو ملاتړ ته تیاروم او ډیرو نورو کسانو به مي ملاتړ کړی واي او د دې پاڅون مخه به مو نیولي وای. خو څرنګه چي ګارنیزون هیڅ اقدام ونه کړ نو ما هم څه نه سو کولای. کپتن جانسن وایي د هغه پاڅون مخه چي په لومړي سر کي په درېو سوو تنو نیوله کېدلای سوای وروسته یي په درېو زرو تنو هم مخنیوی نه سو کېدلای. دی وایي پاڅون ځکه ډېر ژر زور واخیست چي ډېر زیات کسان د برنس وینو ته تږي ناست ول. (کې دوهم ټوک ص ص ۱۷-۱۸)
که څه هم چي انګرېزانو هر څومره قوي جنرالان او هوښیار سیاسي سلاکاران افغانستان ته را وستلي وای د هغوی د ظالمانه تېري نتیجه به یوه وای. د افغانستان خلکو به حتماً د پردیو په مقابل کي پاڅون کولای او پردیو به حتماً ماته خوړلای؛ خو انګرېزانو پر افغانستان باندي د خپل ښکاره او بې موجبه یرغل په وخت کي رهبري داسي یوه ټیم ته سپارلي وه چي د دوی د ناکامی او د افغانانو د پاڅون زمینه یي په زور برابروله. شاه شجاع په خپل ټول تاریخ کي ثابته کړې وه چي هغه یو بې زړه سړی دی او په اکثرو جنګونو کي یې ماته خوړلي وه. په افغانستان کي یې د خپل قدرت د هیڅ رقیب سمه چاره نه وه کړي او ټول وخت یي په داخلي جنګونو کي تېر سوی وو. کله چي انګرېزانو افغانستان ته راووست نو که مکناټن ته نه وي څرګنده سوې، اکثرو انګرېزي صاحب منصبانو د هغه د محبوبیت په برخه کي شکونه ښکاره کړي وه. پخپله مکناټن، نه یوازي د افغانستان په باره کي یوه پانګه لوستي نه وه، په اداري چارو کي دونه خودخواه او پر ځان مین وو چي د خپل هیڅ انګرېز ملګري پر خبرداري او مشوره یي غوږ ونه ونیوی او په لوی لاس یي اور بل کړ. بالاخره جنرال ناټ خپلي لور ته ولیکل چي دی حیران دی د هند حکومت دومره نالایقه سړی څرنګه د سیاسي استازي په حیث ټاکلی دی. الیکزانډر برنس، چي د افغانستان له ټولني سره یي بشپړ بلدیت درلود، هم په اخلاقي لحاظ کمزوری سړی وو او هم یوازي په دې غم کي وو چي کله به مکناټن هند ته ولاړ سي چي دی د هغه پر ځای مقرر سي او د افغانستان دوهم پاچا وګڼل سي. دومره په خپل زور مغرور ووچي د اور لمبې یي د کور تر دروازې پوري ورغلي لا یي هم د خطر احساس نه کاوه او مکناټن ته یي ولیکل چي د ده له کور سره یو څه ستونزه ده. الفینسټون یو ناروغ سړی وو، له یوه ځایه تر بل پوري به په کټوله یا کجاوه کي انتقالېدی او براډ فوټ ته یي ویلي وه چي د خدای روی ته وګوری ما د دي ملکه وباسی. جنرال شیلټن، چي له لویه سره په بالاحصار کي اوسېدی او وروسته ګارنیزون ته انتقال سو، له مکناټن او الفینسټون دواړو سره مخالف وو. هغه په واژه خوله ناري وهلي چي زه به په مکناټن ریشخند ووهم او ماته خوند راکوي چي هغه ریشخندوم. د کابل په ډېرو سختو حالاتو کي یي د مجلس د نزاکت پروا نه ساتله. پر مځکه باندي به په برستن کي پیچلی پروت وو او چي د یوې موضوع په باره کي به د ده عقیده وپوښتل سوه نو ده به په خرهاري جواب ورکاوه. (ډال ریمپل ص ۳۰۳)
سړی نه پوهېږي چي انګرېزانو افغانستان او افغانانو ته په څه سترګه کتل. مکناټن جنرال الفینسټون ته، په کابل کي، د برنس د کور پر شاوخوا باندي، د ښورښ او حالاتو د خرابوالي په باره کي عاجل رپوټ ورکوي. الفینسټون، له لږ ځنډو څخه وروسته، مکناټن رخصتوي او، په داسي حال کي، د خپل کار مېز ته کښیني لکه هیڅ پېښه چي سوې نه وي. قلم را اخلي او په ډېرو آرامو اعصابو، په کابل کي د راتلونکو عملیاتو لپاره هدایتونه ورکوي.
« ګرانه سر ویلیم،
ته چي زما له دفتر څخه ووتلې نو زه له هغه وخته په دې فکر کي یم چي سبا باید څه وسي. زموږ ستونزه یو څه سخته ده. که سبا شیلټن تقویه سي نو زه شک نه لرم چي هغه به له دوو ټولیو عسکرو سره د لاهوری دروازې خواته روان سي او موږ به له هغي دروازې سره له یاغیانو سره مخامخ سو. مګر که موږ اوس دا عمل وکړو نو څه به ترلاسه کړو؟ دا کار کېدلای سي مګر ډېر زیات تلفات ورسره تړلي دي. ځکه چي زموږ پر عسکرو باندي به تر لاهوری دراوازې پوري له بامونو څخه ډزي کیږي. که دوی هلته وي نو موږ به حمله ورباندي وکړو. مګر که په ښار کي دننه حرکت کوو موږ به بیرته را ستنیږو او هیڅ به مو ترلاسه کړي نه وي. او که سړی ښار ته اور ور اچوي نو زه ګومان کوم چي د دې ښار جوړښت داسي دی چي اور نه اخلي. موږ باید وګورو چي سبا څه پېښیږي او بیا به نو فیصله کوو. که موږ د لاهوری دراوزې سره ټول کوروڼه اشغال کړو په هغه صورت کي به پر ټول ښار باندي حاکمیت ولرو، مګر موږ د پراخو عملیاتو لپاره وسایل نه لرو. که موږ د قزلباشو پر ملاتړ باندي تکیه وکړو نو ښایي د ښار کنټرول په اسانی سره تر لاسه کړو. »
ستاسي مخلص
ډبلیو. کې. الفینسټون (کې ص ص ۲۶-۲۷)
په دې توګه عملي پاڅون پیل سو او غازیانو ته څرګنده سوه چي انګرېزان د خپلوځانونو او مشرانو د ساتلو جرأت او وسایل نه لري او دا وطن که نن وي که سبا وي د پخوا په څېر به د دوی وي. د غازیانو شمېر د نومبر د دوهمي تر ماښام پوري څو زرو تنو ته ورسېدی او د نومبر پر دریمه لا نواب جبارخان، چي موهن لال وایي هر وخت د انګرېزانو خواخوږی وو، ښار ته ننووت او ګڼ شمېر کلیوال ورسره وه؛ ډولونه یي وهل او پر خلکو یي ږغ کاوه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چي د فرنګیانو په مقابل کي را پورته سي. د نومبر پر څلورمه غازیانو د انګرېزانو پر کمیساری باندي حمله وکړه او ټول خوراکي مواد یې چور کړل. (موهن لال دوهم جلد ص ۴۱۲)
افغانانو په دونه آساني د انګرېزانو د خوراکي موادو ډېرو ونیوی چي هیڅ یې تصور نه سو کولای. په قشله او بالاحصار کي د انګرېزانو په عصري وسلو سمبال، پنځه زره، عسکر داسي هک پک تللي ول لکه چا چي جادو ورباندي ویلی وي. شاه شجاع په دغه وخت کي له بالاحصار څخه د جګړي ننداره کوله؛ او چي د انګرېزانو وارخطایي یې لیده په زوره یې ناره کړه چي انګرېزان لېونیان دي! (ډیورنډ ص ۳۵۷)
انګرېزان یا له بې زړه توبه او یا له بې تدبیری داسي لاس او پښه سوي وه چي نه یوازي یې الکیزانډر برنس ته مرسته ونه رسوله او نجات یې ورنه کړ، د خپل بې زړه توب له کبله یې د کمیساریات ټول ګودام او اکمالات له لاسه ورکړل بلکه د پاخون په دریمه یې کپتان کولین میکینزي ته یې، چي د قلعه نشان خان ساتنه یې کوله او غازیانو یرغل ورباندي وکړ، هم مرسته ونه رسوله او کله چي له هغه سره ټول مهمات خلاص سول او د تقویتي قوې امید ورته پاته نه سو نو ځان یې په تېښته قشلي ته ورساوه. (موهن لال دوهم جلد ص ۴۱۲)
لېډي سېل، د کمیسیاریات د ګودام د لوټېدلو په باب، په خپلو خاطراتو کي لیکي چي په دغه قلا کي زموږ ټوله ذخیره پرته وه. دوولس زره منه اوړه، غنم او باغلي او ټول طبي مواد، چي څلور لکه روپۍ ارزښت یې درلود، پکښي ذخیره سوي وه.
لېډي سېل وایي نه د ښورش د ځپلو او نه د ګودام د ساتلو لپاره چا اقدام وکړ. داسي ګومان کېږي چي، د دغه ناڅاپي پاخون له امله، پاچا، مکناټن او الفینستون ټول فلج ول. له پاچا څخه خپل ټول درباریان او ډېر نیژدي کسان تښتېدلي دي. هغه ته اوس یوازي وزیر ورپاته دی، چي ډېر زیات ګومان کېږي زموږ پر ضد په دسیسه کي برخه لري. (لېډي سېل. ص ۴۶)

لېډي سېل د غازیانو دا ټولي حملي له خپلي کړکۍ څخه لیدلي او په خپلو خاطراتو کي یې ولیکل:

نور بیا

عبدالباري جهاني
شاه شجاع، امیر دوست محمد خان او برتانیه, دوه دیرشمه برخه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ